امان الله خان

او

په افغانستان کي د سیکولرزم د

خپراوي هڅه

احمد ارشاد سعید

افغانستان ممکن په نړۍ کې یوازنۍ اسلامي هیواد وي چې اوسېدونکو یې هر وخت هیواد ته د پردیو افکارو د ورود مخه نیولې ده. ددې هیواد خلکو د امان الله خان په وخت کې د سیکولرزم مخه ونیول، د نور محمد ترکي او کمونستانو پر مهال یې د کمونیزم او الحاد مخه ډب کړه او دادی اوس یې د لیبرالیزم او ډیمکراسۍ مخنیوي ته کار ویلی دی.

ددې لپاره چې هیواد ته د پردیو افکارو د ورود له سلسلې اګاه شو، لومړی یې له سیکولرزمه راپیلوو. دا موضوع د لا وضاحت لپاره په لاندي عنوانونو وېشل کیږي.

سیکولرزم:

سیکولرزم له انساني ژونده د دین د لیري والي تګلاره ده. دا نطریه په اصل کې د الله تعالی او د هغه جل جلاله د رالېږل شویو ارشاداتو پر وړاندي د ماډرن انسان بغاوت دی. سیکولرزم دین د انساني ژوند له ټولو برخو لیري او یوازي یې د انسان په نفس او ضمیر کې راګیروي. دا په داسي حال کې چې کائنات د الله تعالی تخلیق دی، انسان او ځمکه د همدې خلق شویو کائناتو برخه ده، نو ددې پر ځای چې انسانان او نړۍ دي د کوټه افکارو او نظریاتو حاکمیت ومني، د سالم عقل فیصله دا ده چې یوازیبايد د الله تعالی قانون خپل کړي.

سیکولرزم د دین تر ردولو وروسته د دین تشه له الحاده په زېږېدلو افکارو او تګلارو ډکوي. سیاسي برخه په ډیمکراسۍ(ولسواکۍ؛ چې د الله تعالی د حاکمیت حق د خلکو اکثریت ته ورکوي) ، اقتصادي برخه په کېپټالیزم (سرمایه دارۍ؛ چې د هرې لارې مشروع وي که نامشروع د سرمایې د ګټلو توصیه کوي) او اجتماعي برخه په لیبرالیزم (له هر ډول اخلاقي او اجتماعي قید او شرط څخه د فرد آزادي) ډکوي.

دلته پر سیکولرزم همدومره بحث کافي دی، خو دا چې په افغانستان کې ددې نظریې د ترویج لومړۍ هڅه چا وکړه دې موضوع ته تم کیږو.

افغانستان ته د غرب پالنې تصور لومړی ځل د امیر شیر علي خان د حاکمیت پر مهال راواد شو. امیر شیر علي خان چې په اروپا کې یې زده کړي کړي وې تر ډیره هڅه کول چې د نظام ظاهري بڼه لکه د دربار جوړښت، د پوځ طرحه او داسي نور په اروپايي طرز عیاره کړي، تر دې ورها خوا یې په ورځني ژوند کې د اروپایانو تقلید نه غوښت. خو تر امیر شیر علي خان وروسته امان الله خان لومړنی شخص وو چې د ژوند په ټولو برخو کې یې غربي طرز خپلول غوښتل او په لویه سطحه یې د سیکولرزم د ترویج هڅې پیل کړې.

امان الله خان او د غربپالنې خپلول:

امیر حبیب الله خان د خپل حاکمیت په لومړیو کې ستر بسټیز کارونه وکړل چې نېکه نتیجه یې تر اوسه پر ځای پاتي ده. خو ددې تر څنګ امیر له عیش او عشرته ډک دربار درلود چې د بهرنیو مېلمنو تر څنګ پکې د روڼ اندو (روشنفکرانو) په نوم له غربي کلتور څخه متأثرې ډلې پکې فعالیت درلود. د امیر حبیب الله خان بېغوری، له عیش او عشرته ډک دربار چې امیر یې کاملا راحصار کړی وو، په دولتي ادارو کې فساد او رشوت او څه نور عوامل روڼ اندې ډلې ته د لا فعالیت زمینه برابره کړل.امان الله خان د دربار د همدې روڼ اندو تر تأثیر او پالنې لاندي په داسي یوه ماحول کې رالوی شو چې فضا یې کاملا غربي او پردۍ وه. عقلي بلوغ ته تر رسېدو وروسته یې هم امان الله خان د دوی تر پراخ تأثیر لاندي وو. د روڼ اندو (روشنفکرانو) اساسي مرجع حبیبیه مدرسه (اوسنۍ حبیبه لېسه) وه ، پر دې سربېره له دربار او حبیبې لیسې دباندي هم روڼ اندو شتون درلود. دا ډله د غربي افکارو او ډیمکراسۍ پیروې وه او غوښتل یې امیر له واکه لیري او شاهي نظام په مشروطه نظام واړوي. دې ډلې د امیر له بېغورۍ په استفادې په هیواد کې د نوي تمدن او فرهنګ په نوم د سیکولرزم او غربګرایۍ د خپرولو هڅې پیل کړې چې وروسته یې نتیجه د امان الله خان په څېر شخص کې راووتل.

د روڼ اندو لومړۍ ډله که څه هم د امیر حبیب الله خان لخوا ډېره وځپل شول خو کاملا خاموشه نه شوه، تر دې چې دې ټولۍ د امان الله خان او د هغه د مور (سرور سلطانه بیګم) په مرسته امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې په مخفیانه ډول په داسي حال کې وواژه چې امیر په خپله شاهي خېمه کې ویده وو. د پلار تر مرګ ځو ورځې وروسته د خپلوانو په قانع کولو امیر مان الله خان واک تر لاسه کړ.

د امان الله خان د فکر اصلي مرجع څوک وو؟

د روڼ اندو په دویمه ډله کې په فکري لحاظ تر ټولو مخکښه څېره محمود طرزي وو چې له غربي افکارو او ګرایشونو کاملاً متأثره وو. طرزي په استانبول کې تر اوسېدلو وروسته غربي ګرایشونه خپل کړي ول، دی په ترکیه کې د کمال اتاترک او په ایران کې د رضا شاه پلوي د فکر پلوی وو. سراج الاخبار محمود طرزي ته د انګریزي استعمار خلاف د اواز پورته کولو سربېره د سیکولرزم د خپراوي پراخه زمینه برابره کړه. ټول تاریخ لیکونکي په دې اړه په یوه خوله دي چې محمود طرزي د امان الله خان لپاره یوازنۍ فکري مرجع وه. ویل کیږي د امان الله خان د اصلاحاتو په نوم افساداتو کې محمود طرزي او لور یې ملکه ثریا پوره لاس درلود.

امان الله خان څه وخت د سیکولرزم په علني خپرولو پیل کړ؟

شاه امان الله خان واک ته تر رسېدلو وروسته د اصلاحاتو لړۍ پیل کړې. دا اصلاحات په دوو مرحلو ویشل کیږي چې لومړۍ مرحله د استثنی سره سره د دویمي په پرتله د ولس له هرکلي سره مخ شوه. تر لومړۍ مرحله اصلاحاتو وروسته شاه د اروپا په سفر ووت او له ځان سره یې خپله میرمنه ملکه ثریا او محمود طرزي هم یوځای کړل. ملکه د طرزي په غربپاله کورنۍ کې لویه شوې وه، دیني او ټولنیزو ارزښتونو ته ډېره کمه پابنده وه. ملکه ثریا له خپل خاوند امان الله خان سره د غربي کلتور په نشر کې پوره همکاره وه. د هغه وخت اخیستل شوي نیمه لوڅ تصویرونه ددې دیني او کلتوري التزامات ښه په ډاګه کوي. ددې په اړه دا هم راځي چې یوه ورځ یې خپل د سر پړونی تر پښو لاندې کړ او بیا یې وویل (عصر تاریکی ها درگذشت؛ د تاریکیو وختونه نور تېر شول)

امان الله خان د عادته خلاف پوره ۶ میاشتې له هیواده بهر وو او لدې سفره تر راستنېدو وروسته کاملاً بدل او مغروره شوی وو. هیواد ته د راستنېدو وروسته یې په ښکاره او شعوري ډول د سیکولرزم په خپراوي لاس پوري کړ. د اصلاحاتو په نوم یې د اسلامي او ټولنیزو اصولو خلاف فاسد فرمانونه صادر کړل. پر حجاب یې بندیز ولګاوه، دده په امر د کابل په جادو کې لویې لوحې وځړول شوې چې پر لیکل شوي ول پر دې لاره چادري کړي ښځې نشي تېرېدلای. د جمعې د ورځې رخصتي یې شنبې ورځې ته واړول، د کابل پر خلکو د دریشي اغوستل اجباري شول، په لاس ورکولو سترې مشې منع شول او پر ځای یې باید د پرنګیانو په شان خولۍ له سره لیرې او روغبړ وکړي. له نظامه رانیولې تر روڼتې ژونده پورې په هر څه کې غربپالنه پیل شول.

امان الله خان او تر څنګ یې محمود طرزي په هیواد کې په شعوري ډول د سیکولرزم او بې دینۍ ترویجول غوښتل، دوی دواړه په ترکیه کې د کمال اتاترک او په ایران کې د رضا شاه پهلوي د فکر پلوي وه. کمال اتاترک چې ډېری ترکان یې ایتاترک (د ترکانو سپی) نوموي په ترکیه کې اسلامي خلافت ړنګ کړ، ۱۸ کاله یې پر آذان کولو بندیز ولګاوه، عربي ژبه یې منع اعلان کړل، د ترکي ژبې عربي رسم الخط یې په لاتیني واړوی، حجاب یې منع اعلان کړ، اسلام یې د رسمي دین په توګه د ترکیې له سیاست او قانونه حذف کړ. ددې فاسدو تحولاتو تأثیرات تر اوسه هم په مسلمانه ترکیه کې لیدل کیږي. د مثال په ډول پداسې حال کې چې د ترکیې شاوخوا ۹۷ سلنه وګړي مسلمانان دي، د اتاترک له وخته نیولې تر اوسه یې هم د دولت رسمي دین اسلام نه دی.

رضا شاه پهلوي هم د امان الله خان په څېر د خپل حاکمیت پر مهال ترکیې ته سفر وکړ او تر راستنېدو وروسته یې د سیکولرزم هماغه نسخه په ایران کې عملي

کړل کومه چې امان الله خان په افغانستان کې عملي کول غوښتل. دلته امان الله خان د (اصلاحاتو) په نوم د اسلام د شعائرو مخالفت شروع، هلته رضا شاه (د خرافاتو د له مینځه وړلو) په نوم د اسلام د اصولو پر وړاندي ودرېد.

ددې موضوع په اړه د ځينو اندېښنو ځوابونه:
لومړی: د امان الله خان دولت او د انګريزانو دسيسې:
دا خبره چې د امان الله خان دولت د انګريزانو د دسيسو په نتيجه کې له مينځه ولاړ د امان الله خان پر سهوو او غلطيو د پردې اچولو هڅه ده. دا په اصل کې خپلې غلطۍ پر نورو ور اړول دي. انګريزانو د امان الله خان دولت په رسميت وپېژندلو، په انګلستان کې يې د امان الله خان دود هرکلی وکړ، ده ته يې د تزاري روسيې د لوی امپراطور (پتر کبير) لقب ورکړ او وروسته يې هم ښې اړيکي ورسره پاللې، تاريخ ليکوونکي په دې اړه په يوه خوله دي چې د انګريزانو لخوا د امان الله خان د دولت خلاف دسيسو په اړه هيڅ لاسوند وجود نه لري. په دې اړه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ليکي:

(مخصوصاً په دغه شرقي قومونو کې يوه سلسله تحرکات روان و او د غبار په کتاب کې هم واضح دي، چې ډېرو ملايانو تحرکات کول اما دا چې سړی ووايي دغه خپله حکومت د انګليسانو يعنې حکومت د هندوستان، دوی استولي لېږلي، دا ماته ثابته نه ده، معلومه نه ده او ممکن ده کړي يې وي، ممکن نه يې وي کړي؛ مګر داسې په رسمي ډول سره په دا اوراقو کې ماته داسې شواهد چې وښيي حکومت د انګليس د اعليحضرت امان الله خان په را چپه کولو کې سهم لري او اقدام يې کړی وي، ماته معلوم نه دي او بايد دا وويل شي چې امير امان الله خان چې د سفر څخه را وګرځيده، مخصوصاً په انګلستان کې هم حکومتي عمالو هم خلکو، د اعليحضرت امان الله خان استقبال نظر هر بل مملکت ته زيات کړی و، اعليحضرت امان الله خاان هم د دوی د دغه ښه استقبال څخه نهايت مشکور و، حکومت هد برتانوي اساساً د اعليحضرت اماان الله خان د اصلاحاتو مخالف نه و او نه هغوی هم يعنې واقعاً په دې باندې خوښ و، چې په افغانستان کې دغسې اصلاحات راشي، افغانستان چې د هغه پخواني ذهنيت سره ژوند کاوه او په نوې دنيا کې داخل شي، د دې اصلاحاتو هغوی مخالف نه و) [پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، کتاب؛ ژوندۍ خاطرې، ليکوال؛ ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي]

همدارنګه (Encyclopædia Iranica) هم د امان الله خان د تجدد ګرا هڅو د ناکامېدو په اړه په يوه ليکنه کې وايي:

(Views conflict as to why Amānallāh’s modernization attempt failed. Many Afghans believe that the revolt was the result of a British plot, but

careful research in the secret British files of the period has failed to substantiate this charge, and there is considerable circumstantial evidence to disprove it)

)په دې اړه چې ولي د امان الله خان د عصري کولو هڅې ناکامه شوې مختلف نظريات شتون لري. زياتره افغانان په دې اند دي چې بغاوتونه د انګريز د دسيسو پايله وه، خو د برتانيا د هغه وخت په ډېرو پټو اسنادو کې ژوره څېړنه ددې تور په اثبات کې پاتي راغلې ده. او پر دې سربيره نور د پام وړ شواهد هم شته چې دا خبره غلطه ثابته وي(.

په دې اړه د مير غلام محمد غبار (افغانستان در مسير تاريخ) کتاب کې هم څه تفصيل موجود دی چې لنډيز يې په لاندي ډول دی:

)امان الله خان د اروپا له سفره تر راګرځېدو وروسته ډېر مغروره شوی وو، او په هغې بيړې سره يې چې د اصلاحاتو په برخه کې يې وکړه هيواد د يوې چاودني خواته بوت. دربار له دوديز شکله په غربي شکل واوشت، کالر او نيکټايی د وطني يخن او ساده کاليو ځای ونيو، عياشي او وخت ښه تيرول پيل شول، رښتني او ګټور ريفورم په مضرو فرعي لوبو بدل شول. د اصلاحاتو د تطبيق په اړه د خلکو ارزښتونه، هيلې او غوښتني له پامه وغورځول شوې، ددې پر ځای چې د خلکو اقتصادي ستونزې حل شي، شاه په بې ځايه او حساسو مسائلو په تبديلۍ لګيا شو(.

دويمه: د ملکې د نيمه لوڅ تصوير نشرېدل:

دا انديښنه تر ډېره پر ځای ده، خو دا چې د ملکې انځور دي فوټوشاپ شوی وي او ددې سر دي د بل چا پر تنې ايښودل شوی وي له حقيقته ليري برېښي، ځکه دې کار ته له سره ضرورت نه وو، د ملکې نيمه لوڅ اصلي انځور اوس هم په انټرنيټ او ارشيفونو کې خوندي دی، داسي برېښي چې همدا عکس دي يې هغه مهال په کليو او ښارونو کې خپور شوی وي، خو ددې ستونزې ګوته بيا هم ملکې او امان الله خان ته نيول کيږي نه هغو کسانو ته چې دا تصوير يې نشر کړی وو. په داسي حال کې چې تر امريکايي اشغال وروسته ۱۸ کاله په هيواد کې د غربي فرهنګ او عياشۍ خپرولو بازار ګرم دی، د اوسني نظام لومړۍ ميرمنه ددې جرأت نشي کولای چې پړونی له سره ليري کړي، څه فکر کوئ چې هماغه مهال د ملکې لوڅ سر او پړونی غورځول به احساسات نه راپارول؟

په داسي يوه هيواد کې چې ۹۹ سلنه اوسېدونکي يې مسلمانان دي، د ملکې لخوا داسي اسلام دښمنه اقدام چې له مخالفت سره مخ نه شي نو څه به وشي.

پر دې سربیره ترکیې ته له شرعي محرم پرته د افغانو نجونو استول هم د اسلامي شعائرو سره د شاه ټکر په ډاګه کوي چې باید نه وای شوي.

که امان الله خان د اروپايي تقلید او سیکولرزم د خپراوي پر ځای اقتصادي، تخنیکي او پرمختیایي مسائلو ته پام ور اړولی وای او له اروپا یې یوازې د تخنیک پر راواردولو بسنه کړې وای، نن به مو د پرمختللو هیوادونو په قطار کې ځای درلود، ځکه ولس د انګریز خلاف د امان الله خان تر څنګ ودرېدل او هیواد ته یې استقلال وباښه، د اصلاحاتو له لومړۍ مرحلې څخه چې سیکولرزم او غربپالنه پکې ډېره کمه تر سترګو کېدل تود هرکلی وکړ، دا ولس وروسته هم د امان الله خان تر څنګ په ټینګه درېده، خو د امان الله خان توند خوی، اسلامي اصولو ته کمه پابندي، د ولس ارزښتونه له پامه غورځول، د غرب ړوند تقلید او د پرمختیایي کارونو پر ځای په بې ګټې او حساسو مسائلو اخته کېدل ددې لامل شول چې هیواد د پرمختګ په برخه کې پیړۍ پیړۍ شاته وغورځوي.

پر دې سربیره تیرو خبرو ته په کتو سره د هغه وخت د روحینونو او علماؤ په اړه داسي څه شتون نه لري چې دوی ته دې د ملامتۍ ګوته ونیول شي. د شاه د اسلام ضد اقداماتو پر وړاندې د هغه وخت له علماؤ همدا توقع پکار وه، دا شرعي هم وه او منطقي هم. خو یوازنی څه چې په اړه یې د هغه وخت علماؤ ته ګوته نیول کېدلای شي هغه دا چې پداسي حال کې چې له بهره د راواردو شویو دسیسو پر وړاندي ولس هر ډول قربانۍ ته اماده وو، ولې باید حاکمیت د بچه سقاو په شان بې سواده کس ته پرېښودل شوی وای؟ ولې هڅه نه کېدل چې تر قربانیو وروسته د شریعت مطابق هغه کس حاکمیت ته رسېدلی وای چې هم پر شرعي اصولو برابر وای او هم یې د هیواد د آبادۍ او ښېرازۍ تنده لرلای. دلته هر ځل قرباني ملا ورکړي، خو وروسته حاکمیت داسي چا ته وسپاري چې د اسلام هیڅ اصولو ته پابند نه وي، او یا یې د عملي کولو هیڅ تنده نه لري.

دا چې افغانانو یو ځل بیا د لبرالیزم او ډیمکراسۍ مخه ونیول او ۱۸ کاله یې د خپلو وینو او غوښو په بدل کې د اسلام له ټولو شعائرو دفاع وکړه، که تر دې وروسته حاکمیت بیا هم داسي چا ته سپارل کیږي چې تر اسلامي شریعت ورته پردي افکار ارزښتمند وي، او یا داسي چاته چې د اسلامي شریعت د تطبیق جذبه نه لري، دا به په رښتیا هم د مسلمان ولس له ټولو قربانیو سره ستره جفا وي چې بیا به یې جبیره نورو ۴۰ کلونو قربانیو ته اړتیا لري.

- بلنه اداره

BAL•ANA